په شرطونو کې تر ټولو حقدار شرط چې باید وفا پرې وشي هغه دی په کوم سره چې تاسو د ځان لپاره شرمګاوې (ښځې) حلالې ګرځولي دي (نکاح)

له عقبه بن عامر رضي الله عنه څخه روایت دی وایي چې: رسول الله صلى الله عليه وسلم فرمایلي: "په شرطونو کې تر ټولو حقدار شرط چې باید وفا پرې وشي هغه دی په کوم سره چې تاسو د ځان لپاره شرمګاوې (ښځې) حلالې ګرځولي دي (نکاح)."

[صحیح دی] [متفق علیه دی]

رسول الله صلى الله عليه وسلم فرمایي چې په شرطونو کې تر ټولو زیات حقدار هغه دي چې باید وفا پرې وشي، په کوم سره چې له ښځې څخه استمتاع (خوند اخیستل) روا شوي دي، او دا هغه روا شرطونه دي چې د نکاح د تړون پر مهال یې ښځه غوښتنه کوي.

http://sunnah.global/hadeeth/ps/show/6021